# شریعت
ورځپاڼه

SHARIAT DAILY

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

شپږم کال ٦٩ گڼه پرله پسی (٤٤٩) چهارشنبه د ۱٤۲۲ هـ ق کال د رجب المرجب (۲)
د ۱۳۸۰ هـ ش کال د سنبلی (۲۸) د ۲۰۰۱ میلادی کال د سپتمبر (۲۰)


## الهی فرمان

ترجمه : تاونه لېدل چی ستارب په عادیانو باندی څه وکړل (دخپل دهېر طاقت سره سره بی هلاک کړل)

## دریاست الوزراء اداری مرستیال دپاکستان داسلامی جمهوریت لهلوړرتبه هیأت سره وکتل

کابل باختر: دریاست الوزراء اداری مرستیال محترم ملامحمد حسن اخند پرون له غرمی مخکی دکابل په ښارکی په خپل استوگنځی کی دپاکستان داسلامی جمهوریت داستخباراتو درئیس محترم جنرال محمود په مشری ددغه هیواد له لوړرتبه هیات سره وکتل.

ددغی کتنی په بهیرکی چی ددوستی او تفاهم په فضا کی وشو دواړوخوا و دعلاقی وړمسالو او دافغانستان په اړوند دواړو موضوعگانو په باب خبری اتری وکړی او دپاکستان داسلامی جمهوریت دلوړرتبه هیات رئیس دتیری سه شنبی دپیښی په اړه چی په واشنگټن او نیویارک کی وشوه دنړیوالو اندیښنه دافغانستان داسلامی امارت دریاست الوزراء محترم اداری مرستیال ته ځرگنده کړه په مقابل کی دریاست الوزراء محترم اداری ٤مخ

## دوزیرانو شورا غونده وکړه

کابل - باختر: دافغانستان داسلامی امارت دوزیرانو شورا پرون دریاست الوزراء داداری مرستیال محترم ملا محمد ٤مخ

دکورنیو چارو وزیر:

## دامریکا داحتمالی بریدله امله په ټول هیوادکی پوره امنیتی تدبیر ونه نیول شوی دی

کابل باختر: دهیواد په مرکز او ولایتونو کی په بشپړ توگه دافغانستان دخلکو دسراو مال دامنیت دتامینو لو په خاطر لازم امنیتی تدبیر ونه نیول شوي دي او دهیڅ راز اندیښنی لپاره ځای نشته.

دغه ټکی دافغانستان داسلامی امارت دکورنیو چارو وزیر محترم ملا عبدالرزاق اخند دباختر داطلاعاتی آژانس خبریال ته ځرگنداو زیاته کړه: دهیواد په مرکز او ولایتونو کی امنیتی موظفینو په بشپړ توگه په افغانستان باندی د امریکا داحتمالی برید په صورت کی دهیوادولو دسراو مال ٤مخ

دپاکستان په بهتی کیمپ کی:

## دقومی مشرانو ستره غونده جوړه شوه

کابل - باختر: دننگرهار او دپکتیا دولایتونو دبیلابیلو قومونو علمای کرامو، دمدرسو طالبانو او مشرانو پرون ٤مخ

## دملکی هوایی چلند او توریزم وزیردهوایی او هوایي مدافعی دجزوتامونو دمنسوبینو په غونده کی گډون وکړ

کابل - باختر: دملکی هوایی چلند او توریزم دوزیر او دهوایی او هوایی مدافعی دلوی قوماندان محترم ملا اختر محمد منصور په گډون دهوایی او هوایی مدافعی دیوځ دقطعاتو او جزوتامونو دافسرانواو منسوبینو پراخه غونده پرون جوړه شوه په دی پراخه غونډه کی لومړی دهوایی او هوایی مدافعی دیوځ لوی قوماندان محترم ملا اختر محمد ٤مخ

دجلال اباد په ښار کی دیوه سترمارش په ترځ کی

## پرافغانستان دامریکا احتمالی برید وغندل شو

ننگرهار - باختر: دننگرهار ولایت خلکو پرون دجلال آباد په ښارکی دسترمارش په کولو سره په افغانستان باندی دامریکا ٤مخ

## اینقدر زود نبایداز امریکا ترسید

کابل - شریعت: از تدابیر امنیتی و دفاعی که طی چارروز اخیر از جانب مسئولین امنیتی ونظامی امارت اسلامی دراطراف شهرکابل بویژه خطوط مقدم جبهه درشمال کابل اتخاذ شده است پنج ص۳

## په پاکستان کی دافغانستان داسلامی امارت دسفارت لومړی سکرتر دیوشمیر هیوادونو له دیپلوماټانو سره وکتل

کابل - باختر: دپاکستان په اسلامی جمهوریت کی دافغانستان داسلامی امارت دسفارت لومړی سکرتر محترم محمد سهیل شاهین په اسلام اباد کی دچین، لیبیا او دفرانسی دهیوادونو دسفارتونو له دیپلوماټانو سره دجلاجلاکتنو په ترځ کی په افغانستان باندی دامریکا ٤مخ

## یکتن سارق در شهر ایبک دستگیر گردید

ایبک - باختر: یکتن سارق در شهر ایبک دستگیر و به پنجه قانون سپرده شد.

اسامی سیف الله فرزند محمدعلی مسکونه قریه بابه قمبر شهر ایبک که اموال دکان یکتن از هموطنان ما را درشهر ایبک به سرقت میبرد توسط موظفین قومانداني امنیه ولایت سمنگان بالفعل دستگیر و به پنجه قانون تسلیم داده شد. قضیه تحت تحقیق و بررسی قرار دارد.

## دلوړوزده کړو وزیر دتحصیلی موسسو دلوست بهیر وکوت

دلوړو زده کړو وزیر محترم قاری دین محمد حنیف پرون دمرکز دتحصیلی موسسو دبیلابیلو پوهنځیو دمحصلانو دلوست بهیروکوت له تحصیلي پروگرامونو سره سم دکابل پوهنتون دبیلابیلو پوهنځیو او دکابل دطب انسټیټوټ، دپولي تخنیک انسټیټوټ او دکابل پیداگوژي دمحصلانو لوست په منظم ډول دوام لري. دلوړوزده کړو وزیر پرون پداسی حال کی چی ددغه وزارت علمي او تدریسي معین محترم قاري ذبیح الله زاهد هم ورسره و دغو پوهنځیو دمحصلانو دلوست ٤مخ

دهیواد له بیلابیلو ولایتونو څخه:

## په سلگونو تنه علماءکرام پرون کابل ته راورسیدل

کابل - باختر: دهیواد دعلمای کرامو دشورا دجوړیدو کار بشپړشویدی او په سلگونو تنه عالمان په دی شوراکی دگډون لپاره دهیواد له ولایتونو څخه کابل ته رارسیدلی دی. ٤مخ

دننگرهار ولایت دبریښنا رئیس محترم الحاج مولوی سیف الرحمن شینواری له شریعت سره په مرکه کی :

## دروان کال په لومړی ربعه کی مو ۱۲۱۷۱۵۸۴۵۹۲ افغانی عواید ترلاسه کړیدی

درنو لوستونکو! ستاسی پام هغی مرکی ته راگرځوو چی زموږ خبریال دننگرهار دبریښنا له رئیس محترم الحاج مولوی سیف الرحمن شینواری سره کړیده.

په پیل کی محترم شینواری داسی ووېل: دجلال آباد دښاری شبکی پرتعداد ترانسفارمرونه دنصب له وخته تراوسه پوری په ښکاره اوسپین میدان کی نصب او له رنگ رنگ خطر ونو سره مخ و اودبریښنا له اصولو سره سم پی ساتنه نه کیده. ٤مخ

## دافغان کلتور رعایت او آداب

۲مخ

## سرمقاله

دلوی او بښونکی خدا «ج» په نامه

## دهیواد تاریخی مرحله او دشوری پیاوړی رول

لکه چی ځرگنده ده په یوه پیړی کی دننه له انگریزانو او روسانو وروسته دادی دریم لوی یرغلگر هیواد امریکا په افغانانو دیوه ناروا برید گواښونه کوی. خو لکه چی روښانه ده افغانانو هر بهرنی یرغلگر ته دخپلی میرانی، زړورتیا او په ستونزو کی داوږده زغم په برکت سخته او تاریخی ماتی ورکړی ده چی اوس دنړیوالو په ځرگند شهادت افغانستان دسترو ځواکونو دزوال او ابدی مرگ هدیره بلل کیږی، په هرصورت دادی امریکا گواښیږی او دلیوه په شان له کوزی خوا په موږ داوبو خړولو دعوی کوی. داڅکه چی امریکا ځان ته یو سترقوت اولوی ځواکمن هیواد وایی اوله همدی ځایه موږ وایو چی هیواد مو اوس له یوه ډیر حساس او تاریخی پړاونه تیریږی ۲مخ

## اطلاعیه قومانداني امنیه ولایت کابل

قوماندانی امنیه ولایت کابل قیودشب گردی را از ساعت ۹/۳۰ شب الی ٤/۳۰ صبح نافذ نموده است همشهریان محترم کابل مطلع بوده درصورت تخلف با متخلفین برخورد قانونی صورت خواهدگرفت.

دڅرخي پله په سیمه کي دصنعت دپرمختیا لپاره :

## په یو شمیر ملی سوداگرو ځمکه وویشل شوه

کابل - باختر: دهیواد په یو شمیر ملي سوداگرو باندي دکابل ښار دڅرخي پله دصنعتي پارکونو په سیمه کي دتولیدي فابریکو دجوړولو په مقصد پرون ځمکه وویشل شوه. ٤مخ

## په افغانستان باندي دامریکا داحتمالي برید له امله مخالفتونه زیات شول

نړیوالي خبري منابع - باختر: دارسېدلو خبرونو له مخي په افغانستان باندي دامریکا دمتحده ایالاتو داحتمالي برید په وړاندي دمخالفتونو په دوام دملگرو ملتو دسازمان او دناتو پو ٤مخ

## مبارزین چیچن به تعداد دوجنرال ده افسرروسی راکشته اند

گروزني - باختر: نیروهاي اشغالگرروسي در چیچن صدها نفر را بعد ازجمله مبارزین چیچن برگودرمیس دومین شهر ص٤

## هرچاچی په بد نظر زموږخواته کتلی دی موږپه ډیر تلواردهغو سترگی راایستلی دي

## شـــــریعت

دتاسیس کال :۱۳۷۴ هــ ش

: دلیکوال هینت ترنظرلاندی

مسؤول مدیر: مولوی اسدالله «حیدری»

مـــرستیال: مــلامحمد ابراهیم «نبیل»

دیوی گڼه بیه: په هیوادکی(۱۰۰۰)افغانی په پاکستان کی (۳)کلداری

تیلفون :۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات:۶۲۸۵۹

پست بکس : (٤٧١)کابل افغانستان

جاری حساب : ٤٠٣٨٥ دافغانستان بانك مرکز

کمپوز: احمدجاوید «فقیری» چاپ : امارتی مطبعه


## دسرمقالی پاتی برخه

چی باید په دی مهمه مرحله کی افغانان له پوره درایت ، سوچ اوځیر کتیاکا رواخلی ، وخت وپیژنی ، خپل چاپیریال په غور وڅیری او ددسیسی په تولو اړخونو ځان خبرکړی . ددی مقصد لپاره لومړی شرط دادی چی دهیواد نامتو پوهان ، تجربه کارشخصیتونه ، واکمن مشران او سپین گیری راو غونډل شی او په خورا غورا ودقت داموضوع وڅیری . بیا که دیوی دغـــــی غـــونډی په پای کی هرډول پریکړه وشی ، ملت به یی په کلکه ترشاولاړاو بی له شکه به یی انجام نیکمرغی او سورمخی وی . دعلماوو او مخورو داډول شوری کولای شی دیر غلگر په مقابل کی دجهاد او مقاومت پریکړه صـــادره او په قـــاطع ډول ملت وهڅـــوی چی په خـــپل ټول وس توان دغلیم په مقابل کی خپلی څوکی ټینگی کړی . که فرضاً بیاهم کشاله دخبرو له لاری حل کیدای شی نو ښایی دغه شوری ښه مناسب تدبیر او معقول ځواب غوره کړی چی بیابه هم دافغانستان دمسلمان او مجاهد ملت خیـــراو سعـــادت پکی وی ، دغـــه شوری له دی کبله هم ډیره ارزښتناکه او اغیزمنه ده چی ټریوالو ته دافغانانو دینداری او سپیڅلی عقیده ښه څرگنده او په دی پوهیږی چی داملت څومره دخپلو دینی علمـــا وو او مشـــرانو لارښونو ته غوږنیسی او په کلکه یی عملی کوی نو ځکه اوس ښایی ټول نړیوال په دی انتظار وی چی په دغه شان غونډه کی تربحث او څیړلو وروسته به هر «نه » او «هو» ډیر دروندوزن اوپه نړیواله سطح قوي اعتبار ولری .

باید یادونه وشی چی په تاریخی لحاظ موږ ډیری دغسی بیلگی لروچی هیـــواد مـــو کله په یوه تاریخی اوحســـاس پړاوکی واقع شوی نوبیا ، دمشـرانو او واکمنودیو ی لویی غونډی په ترڅ کی ښــه په غوراو څیړنه فیصلـه شوی او مناسبه تگلاره غوره شوی چی ښی په زړه پوری نتیجی یی درلودلی دی . دامتل له پخواراهیسی مشهوردی چی وایی: «خبره چی په سلاوی ، بی بلاوی » په دی کی شک نشته چی افغان میړنی ولس تل دخپل دین او خپلواکی په لاره کی هر ی قربانی ته چمتواو هیڅکله یی پردی یرغلگرته سرنه دی ټیټ کړی نو اوس که دعلما و شوری دامریکی په مقابل کی دجهاد او مقاومت پریکړه کوی ، یقیناً به دټول ملت له پراخ ملاتړ سره مخامخ او انشا ءالله دکبرجنی امریکی ورکه اوزوال به له همدی ویاړمنی خاوری پیل کیږی .

# اصلاحي ښوونه د اسلام په رڼا کې

لومړي برخه

مولوي عبدالباقي حقاني داطلاعاتو او کلتور وزارت کلتوري معين

نحمده و نصلي علي رسوله الكريم امابعد.

«قال الله تعالي انما المؤمنون اخوة» په تحقيق سره مومنان سره ورونه دي

« قال عليه السلام الدين النصيحه»دين خيرخواهي ده اسلام دمومنانو تر منځ دوروري نسبت قايم کړي لکه يو نسبي ورور دبل ورورچي خيرخواه وي دهغه په درد درد مند وي دهغه په خوشحالي خوشحاله وي هغه ته عيوب ورپه ګوته کوي او دهغه اصلاح کوي. لکه حديث شريف کي راځي :«المؤمن مرأة المؤمن» يو مومن دبل مومن دپاره دآئيني حيثيت لري. آئينه انسان ته اصل صورت سره دعيبه ښکاره کوي که عيب ولري نو همدا رنګه به يو مومن بل مومن ته دهغه نقصان ورپه ګوته کوي په بل حديث شريف کي راځي :«ان احدکم مرآة اخيه فان راي به اذي فليمط عنه » : يو دتاسي نه دبل مومن ورور دپاره دآئيني حيثيت لري کله که دي څه تکليف وګوري په هغه کي بايد تري دفع يې کړي دذکر شوو نصوصو څخه معلومه شوه چي مسلمان به مسلمان ورور ته اصلاحي ښوونه کوي .

دعيوبو او نقصان څخه پاک يواځي الله تعالي ﷻ دي. بنده ګانو کي به عيوب، نقصان خطاء، تقصير او سهوه وي خو په بل مسلمان حق لري چي کله په ده کي نقصان وګوري اصلاحي ښوونه به ورته کوي چي لاندي فايدي به ولري: خصوصاً دهغه چا دپاره چي دمسلمانانو ديني او دنيوي امور ورپوري تړلي وي .

۱-اول به نوموړي خپل تقصير ته متوجه شي او دنقصان څخه به خلاص شي اصلاح دنفس لويه خبره ده .

۲-دوهم دا چي همدغه شخص پخپله دبل داصـــــلاح دپاره داعي جـــــوړيږي او دنورو داصلاح کوښـــــښ به کـــــوي .

۳- کله چي دمسلمانانو امور ور پوري مربوط وي دمسلمانانو دامورو اصلاح راشي او مسلمانان دنقصان څخه بچ شي .

۴- حضور عليه السلام فرمايي چي دوه ډلي دي چي کله دوي اصلاح وي نور خلک به هم ددوي داصلاح په توسط اصلاح وي او که دوي کي فساد وي خلکو کي به هم ددوي د فساد په توسط فساد راځي چي هغه علماء او امراء دي. الحمد الله داسلامي امارت په اکثرو لويومسئوليتو کي علماء قرار لري نو فعلاً علماء امر ا هم دي ددوي اصلاح درعيت داصلاح او ددوي فساد دخلکو دفساد سبب ګرځي نو بايد اهل علم خصوصاً خپلي اصلاح ته ډير متوجه شي.

۵- دا تعامل دي چي په کومه ټولنه کي اصلاحي ښوونه نه وي هغه ترقي نه شي کولي داسلامي امارت دترقي له پاره به اصلاحي ښوونه او منه شرط وي .

٦- داسلامي امارت دټولو مسوولينو داهدف دي چي خپل امارت دخلفاء راشدينو په نقشه برابر کړي نو له دي سره لازمه ده چي اصلاحي ښوونه جريان ولري او په ډيره خو شحالي سره ومنل شي او خفه پري نه شي، بلکي دخپلي خوشحالي اظهار وکړي او دهميشه لپاره دخپل ځان داصلاح داسبابو په فکر کي وي .

۷-علماء کرام دنبي کريم ﷺ وارثان دي . او دنبي ﷺ وينا ده چي :« عليکم بسنتي و سنت الخلفاء الراشدين المهديين »- زمااو زما دراشده خلفاو په سنتو عمل وکړی . او ددوي سنت اصلاحي ښوونه او منه ده .

وان کنت لا تدري فتلک مصيبه و ان کنت تدري فالمصيبته اعظم

که ته نه پوهيږي خو دا يو مصيبت دي او که ته پري پوهيږي نو بيا خو لوی مصيب دي .

کوم خلک چي دخلفاء راشدينو او دنبي کريم ﷺ سنت ورته معلوم نه دي خو يو قسم معذور دي او چي څوک پدي پوهيږي او بيا هم دهغوي لاره نه تعقيبوي دا ډير د ناخوښي ځاي دي بايد دوي پري داسي خوشحاله شي لکه هغوي چي پري خوشحاله شوي وو

۸- که داسلامي امارت اهميت چاته ښه معلوم وي چي دڅومره تکليفونو قربانيو په نتيجه کي لاس ته راغلي او ددي لو ي نعمت قدر داني کول غواړي او دايي مقصد وي چي په سمي طريقي سره په افغانستان کي حاکم وي او ددنيا مسلمانان يي له خوږو څخه مستفيد شي نو بايد په خپله هغه خاني غوښتنه پريږدي کومه چي اسلامي امارت ته په نقصان تماميږي او که پري يي نه ږدي دملبونونو شهيدانو او اسلام سره جفا ده .

۹- موږ په ادارو کي له ډيرو داسي مسائلو سره مخ يو چي له وړاندي نه مو پکي معلومات پوره نه درلودل که هغه پوره معلومات د يو بل شخص يا اداري له خوا راکړي شي دا به دنقصان خبره نه وي .

نور بيا

# دافغانی کلتور رعایت او آداب

الحاج محمد حسن «فیروز خیل»

لکه څرنګه چي روښانه ده په نړي کي مختلف ملتونه ،ولسونه او قومونه اوسيږي او ژوند کوي، چي هر ملت او قوم خانته جلا جلا عادات او کلتور لري ، له پيړيو ، پيړيو دخپل کلتور پالنه کوي او خپل کلتور ته په احترام دپرديو کلتور نه انتخابوي که څه هم په نړي کي داسي قومونه او ملتونه هم شته چي خپل پلرني کلتور ورته دجاهليت کلتورښکاري . مګر دپلار نيکه څخه ورته په ميراث پاتي دي رعايت او پالنه ئي کوي ، دمثال په ډول په هندوستان کي هندوان خپل مړي په خاصو مراسمو سره په اور کي سوځوي اوزيات لګښت پري کوي تر څو مړي ئي په قيمتي لرګيو کي وسوځوي او خانان او پاچايان خوني خپل مړي دعود په نامه لرګيو کي سوځوي چي دعود لرګي في کيلو په عربي نړي کي تر سل ۱۰۰ امريکايي ډالرو پوري قيمت لري ، داټول مصارف کوي پداسي حال کي چي دا کار دخپل اقتصاد منافي ګڼي او له خپل اقتصاد سره ورته ظلم ښکاري او يو غير انساني عمل ورته ښکاري مګر په چوپه خوله دا سلسله مراسم طي کوي ، چي پلرني کلتور ئي زيانمن نشي ، دي ته ورته نور ملتونه شته چي داسي عادات او کلتور لري . مګر افغاني کلتور چي په اصل کي اسلامي کلتور دي بايد چي په ټول توان ورته اهتمام وشي او له خړ پړتيا دتل لپاره وژغورل شي.

زموږ هيواد د تاريخ په اوږدو کي دپرديو له خوا تر بريد او حملي لاندي راغلي ، او دلښکرکشي تر مرحلي رسيدلي مګر افغانانو دجګړي په ميدان کي دښمن مات کړي ، دښمن دزياتو تلفاتو متحمل شوي او ددي لپاره چي په جګړه کي تاوان ئي جبران شوي وي او خپل اهداف ئي تر لاسه کړي وي مرئي دخپلو وسلو سره مات شوي ولي نا مرئي بيا ميدان ته داخل شوي ، پايه بله معني په دروازه ښکاره وتلي ، مګر له کړکي پټ داخل شوي او کلتوري جګړه ئي پيل کړي ، پداسي حال کي چي ددښمن دا چال ترهغه چي ورته پام اړول شوي هيواد ئي په کلتوري مستعمري بدل کړي.

مثلاً :افغانانوبه دخپل اصيل او اسلامي کلتور له مخي کله چي له چا سره عهد او پيمان وکړ هيڅکله ئي خپل عهد نه ماتاوه او وفا ئي باندي کوله خبره به ئي خبره وه ،هوبه ئي هو ، او نه به ئي هم نه وه ، مګر وروستيو لسيزو کي دا خبري بدلي شوي دپرديو په لاره تلونکو افغانانو دهغوي تقليد پيل کړ .

هر څومره به ئي چي څوک وغولول دا به ورته هوښياري ښکاريده . دروغ ويل به ورته سياست برېښيدل او ويل به ئي چي هدف ته رسيدل له هري لاري چي ممکن وي بايد تر سره شي ، هدف ته په رسيدلو کي دخپلو وطنوالو وژل هم معمول شول ، بندي کول هم معمول شول څکه وسله ئي په لاس وه او پرد ي ئي هم تر شاولاړ وُ. وژل ترل ، شړل ، دروغ ويل ، دوکه ورکول ټول هدف ته درسيدو لاري ورته برېښيدي [illegible] همدارنګه دپرديو دپليت تقليد پيروانو دهغو شاعرانو چي ويل به ئي:« په هجران کي دي لو لپه شوم »چي له دي شعر څخه ډيري معناوي په لاس راځي مثلاً: مديني منوري ته رسيدل غواړي او چي نشي ورتلاي داورته هجران ښکاري ، مګر دپرديو مقلدينو ددي شعر مصداق داسي ګاڼه چي د شهواني لذايذو لاس ته راوړلو په خاطر شعر ويل شوی . [illegible] يو خل نورمحمد تره کي په يوه محفل کي چي هلکان او نجوني پکي ګډ نڅيدل وويل :بحوا به د داسي لاس ته را وړنو لپاره شعر او شاعري کاربده مګر اوس عملي ميدان ته راووته او دهجران خبري لاړي همدارنګه دخپل اوږده تاريخ په له منځه وړلو کي ئي عملاً پهي ووهلي ، پخپلو محفلونو کي ئي ټول اسلامي آداب له منځه يووړل. بده ژبه کارول يو بل ته ، ښکنځل کول، ټوکي کول او په قهقهه خندا ګالي کول چي زموږ پوره يو نسل ئي له بدبختيو سره لاس اوګريوان کړ ، او دا سلسله ختمه شوي نده پردي لګيا دي چي زموږ کلتورمسخرکړي او لدي لاري زموږپه هيواد کي جګړه روانه وساتي او هاند روان دي چه اصيل افغانان [illegible] پخپلو کي يو کيدو ته پري نه ښودل شي .

کله شرقي استعمارکله هم انګليسي استعمار او کله هم غربي استعمار ، را ببر شي اوزموږ په ټاټوبي د رنګارنګ حملو ګواښونه پيل کړي، کله اقتصادي ، کله نظامي او کله هم نامرئي کلتوري ګواښونه کوي ، نو زموږ دولس او ټولني دبري راز پدي کي دي چي پخپلو کي دوحدت ، محبت او وروږګلوي لاسونه ورکړي. يو بل ته په متقابل احترام قائل شي. ديوه او بل خوښي او نا خوښي شريکه وګڼي. او دا هيواد دټولو پرګنو شريک کور وګڼي او د پرديو په پيسو او وسلو ديوه او بل دنابودي له سياست څخه توبه وباسي ، نو بيا هغه مهال به الله پاک ﷻ زموږ توبه قبوله کړي اوپه واحد افغانستان کي به د پوره استقلال په لرلو دهوسا ژوند لرونکي او له نړيو الو سره به دسيالي جوګه يو .ترهغو چي سياسي ، کلتوري او اقتصادي استقلال ونلرو ، له دي بدبختيو او وررو وژنو نشو خلاصيدي او دا جګړه به نوره هم دوام کوي. خداي مکړه نو هر فرد که لوي دي که کوچني ، که نظامي کدر دي که سياسي، ټول دخپلي ټولني غوښتني مطالعه او پري غور وکړي نوانشاء الله ستونزه به دتل لپاره حل شي .

# دروان کال په لمړي ربع کې . . .

نو موږ دپلان له مخي دهغو دسالمي ساتني لپاره احاطي شروع کړي او تقريباً ۸۰% کاريي سرته رسيدلي دي .

ده زياته کړه: دټيرو کلونو دجګړو او درنګ رنګ ستونزو له امله يو تعداد مشترکينو له ډيرو کلونو راهيسي دبريښنا محصول نه وه ادا کړي . موږ دهغو لپاره جدي پروګرامونه طرحه او تطبيق کړل او دامارت زياته اندازه قرضه مو له با قيدارانو څخه لاس ته راوړه .

دي زياتوي : دننګرهار په شبکه کي ټول ۷۲ پايي ترانسفارمرونه نصب شوي دي چي محترمو ښاريانو ته ورڅخه بريښنا ورکول کيږي .

طبيعي ده چي په دومره زياتو ترانسفارمرونو کي کله ناکله عوارض هم پيدا کيږي . ددي لپاره چي زموږ په هيواد کي د ترانسفارمر جوړولو فابريکي نشته نو موږ ددي لپاره چي خود کفاء واوسو او دخلکو ستونزو ته په وخت ځواب ووايو دترانسفارمرونود ترميم او پر کاري يو مديريت مو تاسيس کړي دي .

په پاي کي محترم ښيوارې زياته کړه:

موږ د ترانسفارمر جوړولو اوليه مواد لکه سيم ، عايق کاغذ ، ورنس ، او فيته له نورو هيوادوڅخه لاس ته راوړو . زموږ تکړه او مجرب کارکوونکي پدي وتوانيدل چي دروان کال په لومړي ربع کي دداغمه او سوزيدلو ترانسفارمرونو له بې پونه شويو سيمانو څخه په ګټي اخيستو سره او د عايق کاغذ په واسطه .لاندي ترانسفارمرونه په اساسي ډول ترميم کړل :

د ۲۵۰ کيلو واټو په قدرت ۲ پايي،

د ۱٦۰ کيلو واټو په قدرت ۲ پايي،

د ۱۰۰ کيلو واټو په قدرت ۲ پايي، د ۴۰۰ کيلو واټو په قدرت يوه پايه ، له دي جملي څخه ۵ پايي همدااوس په شبکه کي دهيوادوالو دستونزو دحل په خاطر نصب او ۲ پايي نوري په نږدې وخت کي به لازمو ځايونو کي دهيوادوالو دغښتني لپاره نصب کړي

حميدالله «عالي»

# جهان ورزش

تحت نظر : استاد آرین خیبر

## تولید فریاد «کیهاپ» درهنر های رزمی

پژوهش استاد آرین خیبر رئیس انجمن تکواندوی جیدوکوان افغانستان.

فریاد (کیهاپ)جز لاینفک مهم وضروری در هنر های رزمی بشمار میرود . اساتید هنرهای رزمی در خاور دور جهت تولید قدرت (در جریان حرکات دست و پاهای شان فریاد های گوناگون را به کار میبردند.)

امروز مربیون هنر های رزمی بدین باور اندکه هر حرکت ورزشی بدون فریادو کیهاپ روندسیتماتیک و ظرافت رزمی خودرا ازدست میدهد

بخاطر روشن شدن این مساله یک طیاره جت را در نظر میگیریم . بعضی اوقات پیلوتان بخاطر موارد گوناگون صدای طیاره را خپ میکنند . طیاره بدون صدا در آسمان پدید میشود . حالانکه تعداد بسیار اند کی از مردم آنهم روی تصادف بدان نظر می افگنند . ولی اگر هواپیمابا صدای مهیب در آسمان ظاهر گردد

نه تنها تمام مردم متوجه آن می شوند بلکه ترس و دلهرهء عجیب را در روحیات مردم به بار میآورد .

در ین اثنا این صدای مهیب قدرت و ظرافت هواپیما را به اثبات میرساند .

حرکت رزمی نیز به خودی خود شامل همین کتگوری میشود هر حرکت رزمی «چی دست باشد چه پا» بدون کیهاپ ظرافت رزمی بودن و قدرت انفجاری خود را از دست میدهد .

رزمی کاریکه کیهاپ ندارد در اصل به فن رزمی خود بی باور است . هر فریاد وکیهاپ در اثنای انجام حرکت به افزایش سرعت و تولید قدرت و ظریف بودن آن می افزاید .

کیهاپ انرژی یی است که در اثنای تمرینات، رزمی کار را قادر به انجام حرکات بیشتر میسازد .ولی باید بدانیم که کیهاپ بصورت یکنواخت باعث فاش شدن تکنیک و تاکتیک خصوصاً در موارد ضد حمله در میدان های مسابقاتی میشود . کیهاپ باید مواردگوناگون و شیوه های مختلف داشته باشد بر علاوه در آغاز نبرد های مسابقاتی (گیوروکی جونبی) بهترین حرکت بخاطر تحت تاثیر در آوردن حریف کیهاپ میباشد بایک فریاد بلند و قوی میتوان قوی هیکل ترین انسانها را هوش پرک ساخت و حواس آنان را برهم زد کیهاپ فنی است که انسان را در آزمونگاه رزم به نقطه اوج احساسات میرساند .

«کیهاپ»

---

سمیع الله مجروح امر ورزش ولایت تخار:

## به همکاری ورزشکاران قدم های مثبت را درعرصه ورزش برداشتیم

علاقمندان محترم ورزش!

خبر نگار ما مصاحبه یی را با محترم سمیع الله مجروح آمر ورزش ولایت تخار انجام داده است که اینک توجه شما را بدان جلب میداریم .

س: لطف نموده در مورد کار وفعالیت آمریت ورزش در ولایت تخار به خوانندگان محترم معلومات ارایه نمائید ؟

ج:بعد از فتح ولایت تخار توسط نیروهای امارت اسلامی افغانستان مسئولین امارتی بخصوص مقام محترم ولایت تخار به اساس توجه خاصی که به ورزش مبذول داشتند مسئولیت آمریت ورزشی را در چوکات مقام ولایت تخار به عهده بنده گذاشته که خوشبختانه به همکاری ورزشکاران قدم های مثبت را در راه ورزش برداشتیم .

ولایت تخار با داشتن بهترین قهرمانان ورزشکار قبل از فتح در میدان نا هنجار وناسالم ورزشی به سر میبردند اکنون قدم های مثمر ذیل در حصه ورزش برداشته شده است :

گرد هم آوردن تمام ورزشکاران در یک صف که قبلاً به شکل غیر منظم تمرین میکردند .

تشویق کردن ورزشکاران ، دایر نمودن مسابقات از جمله تدویر تورنمنت بهاری فوتبال به اشتراک تیم ولایت در مسابقات ولایت بلخ که الحمد الله موفقانه سپری شد ، ترتیب و تنظیم کلپ های ورزش رزمی و غیر رزمی، ایجاد کلپ ورزشی بوکسنگ که قبلاً در چوکات آمریت ورزش وجود نداشت .

به همین ترتیب به مناسبت های مختلف نمایشات ورزش های رزمی از جمله تکواندو و کونگ فوتوا را براه انداختیم که باعث تشویق و ترغیب مردم خاصتاً جوانان به سوی ورزش گردیده است .

س: فعلاً در سطح ولایت تخار چند کلپ و تیم مختلف ورزشی فعالیت دارند؟

ج: فعلاً در چوکات آمریت ورزشی ولایت تخار سه کلپ تکواندو ، سه کلپ کونگفو ، دو کلپ پرورش اندام ، یک کلپ بوکس ، چندین تیم فوتبال و والیبال را به شکل رسمی راجستر داریم. همچنان در نظر داریم تا کلپ های پهلوانی را نیز فعال سازیم .

س: در مورد بهبود وضع ورزش در ولایت تخار چه پشنهادات دارید؟

ج: به همگان بهتر معلوم است که ولایت تخار نیز از دستاویز جنگ و خونریزی وویرانی بی بهره نمانده است. فعلاً در سطح ولایت تخار آمریت ورزشی تخصیص و تشکیل ندارد لهذا جهت تدویر مسابقات و تورنمنت های ورزشی در سطح ولایت در شهر تالقان به یک ستدیوم ورزشی ضرورت داریم که طی پشنهاد به ولایت تخار،آنها درین مورد نظر نیک داشتند.

در کلپ های ورزشی به لوازم و سامان آلات ضرورت مبرم احساس میشود ، مشکلات ورزشکاران مانهایت زیاد است از مقامات ذیصلاح امارت اسلامی در مورد توجه لازم خواهانیم .

محمد خالد «جیدوکوان»

---

## ساده ترین ورزش برای پیران

اگر اشخاص سالخورده برای حفظ صحت وسلامتی شان تابع یک رژیم سخت ورزشی نمی شوند ساده ترین نوع ورزش یعنی قدم زدن می تواند حیات بخش انسان های سالخورده باشد.

محققان بین المللی در رشته المپیک کشف کرده اند که راه رفتن و قدم زدن نهایت ساده اشخاص مسن را یاری میدهد تا قضاوت و حافظه خودرا تقویت نمایند . تحقیقات آن ها را نشان میدهد که قسمت قدامی ساحه های مغز در فکر کردن حایز اهمیت است و آکسیجن علاوه شده که در اثنای راه رفتن برای این حصص مغز میرسد اشخاص مسن را کمک می کند تا توانایی ذهنی شانرا در تکمیل یک سلسله ازمایش های مغلق فکری بیشتر سازند قسمت های قدامی مغز یعنی حصهء پیشروی آن مسئول اجرای عملیه کنترول اجرائیوی است و بازیادشدن سن السان این ساحات مغز تغییر می کند و پیاده گردی آن هاییرا که در سالهای جوانی فعالیت نداشته اند بهتر کمک می کند. «همکار»

---

## چشم الکترونیکی

دانشمندان ورزش یک چشم الکترونیکی را اختراع و ساخته اند که از آن در حکمیت بازی های المپیک جهانی و مسابقات محلی و مملکتی استفاده به عمل می آید .

این چشم الکترونیکی که بازی فوتبال را باحد اکثر تخلف ساحه سه ملی اندازه گیری می کند در مسابقات المپیک دو هزار وچارسدنی در استرالیا مورد استفاده قرار خواهد گرفت .

مسئول گروه انجنیران فنلندی که این چشم الکترونیکی را ساخته اند میگویند که این چشم پرش ورزشکاران را قبل و بعد از پرش ثبت و اندازه گیری می کند و از طریق فلم تلویزیونی آنرا در معرض حکمیت و داوری قرار میدهد.

او گفت : در حال حاضر هر حکم و داور برای اندازه گیری طول پرش ورزشکاران به دو دقیقه نیاز دارند در حالیکه این چشم الکترونیکی در دو ثانیه این عمل را انجام میدهد .

شاگرد

---

استاد فریدون «احمدی»

## کلب ورزشی شهر اولیای ولایت غزنی ۵۰۰ تن تکواندو کار را به جامعه تقدیم نموده است

ورزش دوستان گرامی !

خبر نگاراعزامی ما به ولایت غزنی بامربی کلپ ورزشی شهر اولیاء مصاحبه یی را انجام داده است که یکجا به خوانش میگیریم

«محترم استاد فریدون احمدی فرزند غلام حضرت احمدی فارغ التحصیل دیپارتمنت اقتصاد پوهنځي زراعت پوهنتون کابل میباشدموصوف درمورد سابقه ورزشی خودچنین معلومات ارایه داشتند.نظر به شوق و علاقه مفرط به ورزش تکواندو در سال ۱۳۶۵ حین که محصل پوهنتون بودم تمرینات خود را در رشته تکواندو تحت نظر استاد ضیالحق بخشی آغاز نمودم .فعلاً بحیث مربی کلپ تکواندوی شهر اولیاء فعالیت دارم

س:در چند مسابقه تکواندو اشتراک نموده اید. دستاورد های تان چیست ؟

ج: از شروع فعالیت های ورزشی ام تا حال در ۱۶ مسابقه اشتراک نموده ام . در مسابقات انتخاباتی تیم ملی تکواندو که برای بار نخست در سال ۱۳۷۲ در شهر کابل دایر گردید ، بود اشتراک نمودم در نتیجه به حیث عضو تیم ملی تکواندو و عضو فدراسیون تکواندوی افغانستان شناخته شدم . نتایج حاصله از تمام مسابقات چندین تقدیر نامه ، تحسین نامه ، مدال و کپ های افتخاری میباشد. قابل یاد آوریست که بنده در آزمون فدراسیون تکواندوی افغانستان که تحت نظارت هیئت معتبر فدراسیون جهانی تکواندو «ماستر هیسی وان » انجام پذیرفت به اخذ دیپلوم جهانی موفق گردیدم که به عنوان گنجینه های پر ارزش نزدم محفوظ است .

س: آیا از طرف فدراسیون تکواندو با شما کدام کمکی صورت گرفته یا خیر ؟

متاسفانه فدراسیون تکواندو به حیث مرجع معتبر نه تنها با ما کمک نکرده است بلکه هیئت رهبری فعلی آن شناسایی هم با ما ندارند که خیلی ها مایه تأسف است

س: در اخیر اگر مشکلات تان را به مقامات ذیصلاح کمیته ملی المپیک و هکذا پیام تان را به ورزشکاران بازگو نمائید بهتر خواهد بود؟

ج:در ولایت باستانی غزنی خوشبختانه ۹۰٪ جوانان در رشته های مختلف ورزش مصروف تمرینات خود میباشند . اگر چه تا اندازه مشکلات ورزش در اثر سعی و تلاش محترم مفتی لطیف الله حکیمی رئیس اطلاعات و کلتور ولایت غزنی مرفوع گردیده ولی با آنهم مشکل اساسی و مهم که ورزشکاران در هر موسم سال به آن مواجه هستند نبودن جای مناسب ، ستدیوم و جمنازیوم ورزشی میباشد.

پیام من برای ورزشکاران این است که معنی و مفهوم واقعی ورزش را درک نموده و از ورزش جهت صحت وسلامتی بدنی و روحی استفاده نموده خود را آماده دفاع از تمامیت ارضی ، استقلال و حاکمیت مردم در مقابل استیلاگران خارجی و بیگانگان نمایند .

«بریالی خیبر»

---

حیات الله «لوگروال»ترینر تیم سباوون :

## پس ازتأسیس ۱.۱.۱ تیم فوتبال خود را دوباره احیاً نمودم

ورزش دوستان عزیزا!

خبر نگار ما صحبتی نموده با محترم حیات الله «لوگروال» ترینر تیم متذکره که ذیلاً تقدیم خوانند گان محترم میگردد.

در آغاز محترم لوگروال در مورد تاریخچه تیم شان چنین فرمودند:

تیم فوتبال سباوون در ماه میزان ۱۳۶۱ تحت نام حریت تأسیس گردید وپس از مدت دوسال از گروپهای B و C به گروپ A ارتقاً نمود و نظر به مشکلات آن زمان نتوانستیم تحت نام حریت در گروپ الف تمرینات خویش را ادامه بدهیم . بعداً در سال ۱۳۶۷ به دیار هجرت رهسپار گردیدیم و در کشور پاکستان تیم امان شهید و بعد از یک سال دوباره تیم حریت را تأسیس نمودیم و در کشور پاکستان افتخارات کثیری را بدست آوردیم . بعد از پیروزی امارت اسلامی افغانستان از دیار هجرت آمده و تیم خود را دوباره شامل گروپهای الف نمودیم . در سال ۱۳۷۸ نام تیم حریت را بنام سباوون نظر به مشوره اعضای تیم تغییر دادیم.

محترم لوگروال در مورد فعالیتها و افتخارات تیم شان چنین معلومات ارائه نمودند.

در زمان هجرت تیم ما سه بار قهرمان تمام پاکستان و پنج بار قهرمان صوبه سرحد گردید. در داخل کشور در چهار تورنمنت که تحت نام مبارزه علیه ماین ها برگذار گردیده بود مقام اول را کمائی نموده و به فضل خداوندﷻ طی چهار سال اخیر تیم ها حایز مقام های اول ، دوم و چهارم گردیده است . و تاکنون ۵۷۰ جوان را تیم ما در این رشته تربیه نموده است .

ایشان در مورد بازی کنان ممتاز تیم سباوون و دیگر تیم ها فرمودند : هر بازی کن در جای و موقعیتش نزد من ممتاز می باشد .که در خط دفاع بهترین بازی کنها بشیر احمد ، سید مصطفی ، محمد ایمل بهترین ستر آف ، ودر خط مهاجم عباداالله و عبدالکریم سر نوشت سازان تیم سباوون اند . از تیم های دیگر کشور سید محمود و احمد فرید از تیم هرات ، علی حسین از تیم مزار شریف، محمد قاسم از تیم قندهار ، احمدخسرو، از تیم اتحاد، احمد نیاز و نجیب الله از تیم میوند به نظر من ورزشکاران ممتاز هستند .

محترم حیات الله در مورد پلانهای آینده شان چنین اظهار داشتند : چون اعضای تیم ما به ورزش های بوکس و پهلوانی علاقه زیاد دارند بناء در این اواخر کلپ بکسنگ سباوون را تأسیس نمودیم که مسئولیت آن بدوش استاد نثار احمد می باشد. در نظر داریم که در آینده نزدیک کلپ پهلوانی سباوون را نیز افتتاح نمایبم.

در اخیر محترم لوگروال فرمودند : من از تمام ورزشکاران کشور تقاضا مینمایم که باید تا اخرین انرژی سعی و کوشش نمایند و رهنمائی های استادان خود را به درستی درک کرده و در میدان مسابقه عملی نمایند فوتبالران کشور باید ازقوانین هفده گانه فوتبال باخبر باشند . و باهم قطار انشان هماهنگ بوده شفقت در مقابل خورد سالان و احترام در مقابل کلان سالان را جداً مراعات نموده تواضع ، صبر و گذشت را در جریان مسابقات وتمرینات فراموش نکنند .

ارسلان «سجاد»

---

## اعلانات

مستوفیت ولایت میدان وردگ در ولسوالی چک یک تعداد موتر مختلف النوع را بتاریخ ۱۴۲۲/۶/۲۴ لیلام نموده.

عبدالولی موتر تکسی را به مبلغ چهار ملیون و دوصد هزار افغانی

محمد معین موتر تکتر را به مبلغ نودونه ملیون و هشتصد هزار افغانی

محمدوحید موتر ماز پنجصد را به مبلغ پنجصدو هفتاد ملیون افغانی

عبدالرحیم موتر هینوی کلان را به مبلغ یکصد و پنجاه وچهار ملیون و پنجصد هزار افغانی قبولدار شده اند .

مزایده کننده گان بتاریخ ۱۴۲۲/۷/۲ به ولسوالی چک مراجعه نمایند تضمین اخذ میگردد .

###

ریاست عمومی مواد نفتی و گازمایع تعمیر مقابل سرک قول آبچکان که در جوار جاده سالنگ وات موقعیت دارد ماهانه مبلغ سه ملیون افغانی با مالک آن حاجی زمان گل برای مدت یک سال قرار داد مینماید .

اشخاص و موسساتیکه در ساحه متذکره چنین تعمیر داشته و بکرایه کمتر بدهند درخواست های خویش را به ریاست عمومی مواد نفتی واقع سالنگ وات بسپارند و خود شان از تاریخ ۱۴۲۲/۷/۲ تا ده روز مراجعه نمایند.

###

موازی ۱۷۸-۲۹ جریب زمین زراعتی واقع ده خدایداد به اجاره داده میشود . شایقین درخواست های خویشرا بریاست ناحیه شانزدهم شاروالی کابل بسپارند و خود شان از تاریخ ۱۴۲۲/۷/۲ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

###

به اطلاع خواجه کرام الدین فرزند خواجه حسام الدین تحویلدار پرزه جات آمریت تخنیکی نمبر ۱ افسوتر که بتاریخ ۱۴۲۱/۱۲/۱ وظیفه را خود سرانه ترک نموده میرساند تا جهت تصفیه حسابات خویش از تاریخ ۱۴۲۲/۷/۲ تا یکماه به تصدی افسوتر حاضر شود در غیر آن تحویلخانه بحضور داشت هیئت باز وآنگاه حق شکایت را نخواهند داشت .

###

خلیل الله فرزند امین الله جعفر بیگ درملتون ملکیت خویشرا به اسمی عبدالله نجیب درملتون کابل تغییر نام مینماید .

اشخاص وموسساتیکه بایشان معامله داشته باشند مسبوق گردند.

###

وزارت مخابرات به تعداد بیست وچار عراده وسایط غیر فعال مختلف النوع خویشرا بحضور هیئت لیلام مینماید.

اشخاص و موسساتیکه خواهش خریداری آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا به وزارت مخابرات بسپارند و خود شان از تاریخ ۱۴۲۲/۶/۱۳ الی تاریخ ۱۴۲۲/۷/۱۵ مراجعه نمایند وسایط را ملاحظه کرده میتوانند .

## نامه وارده

**به ریاست محترم روزنامه شریعت!**

از آنجائیکه آموزش کودکان طبق مشی اسلامی ا.ا یک امر ضروری به شمار میرود بناً بنده نیزغرض فراه گیری تعلیم وتربیه سالم شامل مکتب شد م تابه صورت منظم دروس را فراگیرم ، البته بنده از فاصله دوربه مکتب میرسم.

باوجود تلاش مدیرصاحب عمومی مدرسه (تهیه مسکن) مدرسه به ترمیم واحیای مجدد ضرورت دارد وفعلاً تشناب ها غیرفعال است ،همه روزه فرش به صنوف اول ودوم موجود نمی باشد وصنف های بالاتر به پول خودچوکی تهیه نمودند وشاگردان صنف اول بالای بکس کتاب های خود می نشینند و با سرخم شده نوشته می کنند که طبعاً به اطفال از ناحیه ستون فقرات نقص کلی ودایمی دارد ، سیستم آبرسانی غیر فعال است وبدتراز همه که ساحه مدرسه وسرک یکی است درحالیکه کتاره هابه عوض شیشه درمنزل اول نصب شده وساحه ورزشی هم تخریب شده .

قابل تذکراست که این همه مشکلات درسالها ۱۳۷۱-۱۳۷۲هـ ش بوجود آمد .

ماازیک مرجع ومنبع تقاضا نداریم که همه مشکلات را یک باره رفع کند بلکه از هر ارگان یاانجو ویا سرمایه داران ملی که توان دارند یک بارتقاضا میداریم که ساحه را از نزدیک دیده وبعداً به اندازه توان فقط یک موضوع را اگرحل کند ، خیر حاضرت واخرت راکمائی خواهند کرد ،البته اداره محترم مدرسه درقسمت برق ، وقوای بشری اماده همکاری میباشد.

موضوع را به شما نگاشتم تامسولین وخیرخواهان آن را بخوانند وقدم نیک دراین مدرسه بگذارند .

والسلام

ویس احمد طالب العلم مدرسه تهیه مسکن ومسکونه پروان سوم

### درباست الوزراء ...

مرستیال په واشنګټن او نیویارک کې دتیرې سه شنبې دورځې په پېښه کې دافغانستان داسلامي امارت نه مداخلت څرګندکړ او وی ویل دغه شان یو ی ستری پېښې ته سازمان ورکول دافغانستان داسلامي امارت او داسامه بن لادن له قدرت او توان څخه چې دمیلمه په توګه په افغانستان کې شپې سبا کوی وتلی کاردی .

امریکائی مقاماتو په ناحقه اسامه بن لادن په دی پېښه کې لومړی درجه شکمن بللی دی .

داسامه بن لادن ټول فعالیتونه دافغانستان داسلامي امارت ترکنترول لاندی د ی او ده ته اجازه نه ورکول کیږی چې دافغانستان له خاوری څخه دنور و هیوادونو پرخلاف فعالیت وکړی.

دامریکا متحده ایالات باید خپلو کور نیوحالاتوته متوجه واوسی او ددغه شان پېښو مخه ونیسی.

په دی کتنه کی دافغانستان داسلامي امارت دبهرنیو چارو وزارت معین محترم ملا عبدالرحمٰن زاهد او دچارو داداری لوی رئیس محترم مولوی سید محمد حقانی هم برخه لرله.

دپاکستان داسلامی جمهوریت لوړرتبه هیأت ددغه هیواد داستخباراتو درئیس محترم جنرال محمود په مشری او ددغه هیواد دبهرنیو چارو په وزارت کی دمرکزی اسیا او دافغانستان دچارو دمسؤول محترم عزیز احمد خان په ترکیب چې په دی وروستیو وختوکی دافغانستان داسلامی امارت له مقاماتو سره دلیدنو کتنو او خبرو اترو په مقصدافغانستان ته راغلي و داسلامي امارت له مقاماتو سره له کتنو وروسته پرون غرمه اسلام آباد ته روان شو.

### دامریکا داحتمالي ..

دساتنې او دامنیت دتامینولو په خاطر سخت امنیتی تدبیر ونه نیولی دی او هره شیبه دافغانستان دخلکو ددښمنانو دهر راز توطئو او دسیسو شنډولو ته تیاردی او هیڅ عنصرته دعامه نظم دګډوډولو اجازه نه ورکول کیږی او په دی لاره کی غوڅ چلند کیږی .

ده زیاته کړه :دافغانستان داسلامي امارت امنیتی پوځونه په لوی خدای «ج» باندی په توکل او دایمان په قوت دتیری کوونکو پرخلاف مبارزی ته تیاردی او دلورو محاربوی احضاراتو په لرلو او داضافی تدبیرونو په نیولو سره دهیواد په مرکز ، ولایتونو ، او لویو لاروکي دخپلوهیواد الو ،هر راز خدمت ته تیاردی

دی وایی دکورنیو چارو وزارت له امنیتی منسوبینو سره دافغانستان دټولو مسلمانو خلکو بشپړ ملاتړ شته او داسلام دمبین دین او دهیواد دفاع دټولو دنده ده

### دوزیرانو شورا ...

حسن اخند په مشری په فوقالعاده توګه غونډه وکړه دوزیرانو شورا په غونډه کی دهیواد دامنیتی او دفاعی چارو او دنورو موضوعګانو په باب هراړخیزی خبری وشوی لازم تصمیمونه ونیول شول او اړوند ومراجعوته لارښوونی وشوی

دغه راز په غونډه کی دکورنیو چارو دمحترم وزیر په مشری دکابل ښار موظف امنیتی هیات دخپلو اجرااتو او فعالیتو نو رپوټ وړاندی کړچی دوزیر انو شورا لخوا مثبت وبلل شو.

دوزیرانو شورا فوق العاده غونډی په ټول هیواداو په تیره بیا دکابل په ښارکی دامنیتی چارودښه والی په اړوند لازم تصمیمونه ونیول او اړوند ومراجعو ته یی ابلاغ کړل.

### په بوشمیر ...

په هغې غونډه کې چې له هندي امله دکانو او صنایعو وزارت دمعین محترم قاري حمدالله او ددغه وزارت دبوشمیر چارواکو په ګډون دځرخي پله په صنعتي پارکونو کې برابره شوي وه دکانو او صنایعو وزیر محترم ملا محمدعیسي اخند دبوي وینا په ترڅ کې په غونډه کې برخه والو ملي سوداګرواو پانګه والو ته چې مینه لري دځرخي پله په صنعتي پارکونو کې تولیدي فابریکې جوړې کړي. او خپلې پانګې په دوران کې واچوي وویل دافغانستان داسلامي امارت چارواکي دخمکي دویش دبرېښنا دشبکو دغځولو او دنورو لازمو اسانتیاوو دبرابرولو په برخه کې له ملي سوداګرو سره له هیڅ راز مرستې او همکارۍ څخه ډډه نه کوي او په دې برخه کې هر اړخیزه او عملي همکاري کوي چې دافغانستان دخلکو ستونزې او مشکلات حل شي او دبهرنیو مالونو دوارد ولو مخه ونیول شي.

### دقومي مشرانو ...

دپاکستان په اسلامی جمهوریت کی دمهاجرینو په بهـتی کـمپ کی دیوی احتجاجیه غونډی په ترڅ کی په افغانستان باندی دامریکا احتمالی برغل وغانده.

په دی غونډه کی دقرآن عظیم الشان له ختم وروسته محترم مولوی زین الدین ،محترم ملا راحت الله ،دمعروف خیلو دقوم مشرمحترم حاجی سردار او دخوږیانو دقوم مشر محترم مامورجان په وارسره خبری وکړي او دکفارودسېسي يی دغونډی برخه والوته بربنډی کړی او وی ویل الحمدالله افغانانو تل له کفارو سره مقابله کړیده او دوپاړخای دی چی روسانو په افغانستان کی ماتی وخوړه او وشرمیدل او اوس امریکا په غلط خیال سره غواړی چی ځان دشوروی له برخلیک سره مخامخ کړی .

وینااولو زیاته کړه :

دافغانستان خلک هره شیبه دخپلی خاوری او اسلامی امارت دفاع ته تیار دی او هیڅکله چاته اجازه نه ورکوی چی ددوی دخاوری پرخلاف په تخریبی او تروریستی فعالیتونو لاس پوری کړی.

غونډ ه دمحترم قاضی عبدالرحمٰن په وینا سره پای ته ورسیده .

### دملکي هوایي ...

منصور او دهوایی او هوایی مدافعې دپوځ دلوی قوماندانۍ هرستیال محترم ملا عبدالسلام مجبور په وارسره وینا وی وکړی او زموږ دهیواد په فضایی حریم باندی یی داسلام ددښمنانو داحتمالی یرغل دشنډولو په خاطر يې دهوایی ځواکونو رول جوت کړ.وینا والو په دی ترڅ کی چی ددغو قوتونو په ارزښت او ضروت باندی ټینګار وکړاو دهیواد دځمکنی بشپړتیا ملی واکمنی خپلواکی او داسلامی نظام دواکمنی ددفاع په لاره کی یې دهغوی دبشپړتیاری او لوړی روحیې داډورکړ.

### پرافغانستان...

احتمالی بریدونه وغندل او دهیواد دخپلواکی ځمکنی بشپړتیا اوملی واکمنی ددفاع په لاره کی یی خپل بشپړتیاری څرګندکړ.

ددغه سترمارش په بهیر کی چی دننګرهار ولایت دزرګونو تنو خلکو او ددغه ولایت دبیلابیلو قوموتودعالمانو مشرانو ،او مخورو په ګډون ترسره شو درباست الوزرا اقتصادی مرستیال او دختیځ زون تنظیمه رئیس محترم مولوی عبدالکبیر په افغانستان او سیمه کی دامریکی او دنړیوال استکبارناوړه هدفونه بیان کړل او وی ویل.

امریکا او اندیوالان یی په افغانستان باندی په احتمالی برید ونواو توطئو سره غواړی په افغانستان او سیمه کی خپل ناوړه هدفونه عملی کړی .هغوی په بیلابیلو پلمو غواړی مسلمانان کمزوری کړی او ددوی دځرګندونو له مخې دصلیبي جګړو اوربل کړي.

محترم مولوی عبدالکبیر ووبل :دافغانستان له اسلامی امارت سره چی دهیواد دټولو خلکو پرملاتړ شته دبشپړغلګرو او تیری کوونکو په وړاندی په غوڅه توګه دهیواد خپلواکی او دملی ګټودفاع ته تیار دی او په دې لاره کی هرراز سر ښند نه اوځان تیریدنه کوی.

ده ووبل :دافغانستان خلک دېل هر وخت په نسبت متحداو یو موټی شـویدی او دننګرهار ولایت خلکو داسلامی اردو دجـزوتامونو او قطعاتو ترڅنګ په پولوکی دیرغلګرو او تیری کوونکو په وړاندی دفاعی کمربندونه جوړ کړیدی او په بشپړه توګه دافغانستان دپولو دفاع ته چمتو دی .

دغه راز په دې سترمارش کې چې دالله اکبـر په نعرو او دامریکا او دنړیوال استکبارضد شعارونو سره بدرګه کیده دننګرهار ولایت یو زیات شمیر عالمانو او مخورو شخصیتونو دنورو په ګمایندګی خبری وکړی او دهیواد ددفاع په لاره کی یی خپل پوره تیاری څرګندکړ.

### په پاکستان کي ...

احتمالي برغل په ټول مسلمه امت او اسلامي نړۍ باندي برغل وباله.

داسلام آباد له ښارنه دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ محترم محمد سهیل شاهین دهغو جلاجلا کتنو په بهیر کې چې په پاکستان کي دچین ولسي جمهوریت دسفارت له لومړي سکرتر دلیبیا سفارت له شارژدافیر او دفرانسي سفارت له لومړی سکرتر سره په اسلام آباد کی دافغانستان داسلامی امارت دسفارت په مقر کی وکړی دتروریزم په امریکا کی ،د وروستیو پیښو، اسامه بن لادن او دنورو سیمه ییزو او نړیوالو مسالو په وړاندی دافغانستان داسلامی امارت فعال دریځ بیان کړاو وی ویل :

دافغانستان اسلامی امارت دتروریزم مخالف دی او په کلکه یی غندی.

### په افغانستان...

زیات شمیر نړیو هیوادونو اعلام وکړچې په افغانستان باندي په پوځي برید کي په دواشنګټن ملاتړ ونه کړي.

دځو هیوادونو لوړرتبه سیاسي مقامات په افغانستان باندي له بیرني برید څخه ددې کولو لپاره دامریکا ددولت دمتقاعد کولو په خاطر په روانه اوني کي امریکا ته ځي.

دمصر شیخ الظهر دلبنان صدراعظم او دمتحده عربي اماراتو رئیس دباوري سندونو او مدارکو پرښست په نیویارک او واشنګټن باندي دبرید دعاملینو دمجازاتو په لزوم باندي په ټینګار سره اعلام وکړچي باید په افغانستان باندي په برید کي بیره ونه شي.

دغه راز دمصر جمهور رئیس حسني مبارک له تروریزم سره دمقابلي لپاره دملګرو ملتـودسـازمان دنړیوالي غونډي دجوړیدو غوښتنه وکړه

### په سلګونو تنه ...

په هغې مقدماتی غونډه کی چی په ښه توګه ددغی شورا دجوړولو په مقصد پرون وشوه په دغی شورا پوری داړوندو چارو دبرابرولو او تنظیم په اړوند لازم تصمیمونه ونیول شول دهیواد دعلمای کرامو شورا چی په نږدی راټولنکي کي خپل کار په پراخه توګه دکابل په ښارکې پیل کوی دروانو حالاتو او وروستیو جریاناتو په باب په هراړخیزه توګه غوراو خبری اتری کوی ګتوری سلا مشوری وړاندي کوي او لازم تصمیمونه نیسی.

### اینقدر زود ...

فیصد هموطنان ما آگاهی ندارند.

وضعیت کنونی شهرکابل را خبرنگار ما چنین گزارش میدهد:

باحادثه طیاره ربایی ۱۱ سپتامبر شهرهای نیویارك و واشنگتن انقلاب عظیم هرج ومرج درسطح کره خاکی وسیعاً بوجود آمده است که اثرات سئو این انقلاب پس از شعله ور شدن درشهرهای یادشده حالا ممالك آسیایی ازجمله افغانستان ، پاکستان وسایر ممالك همجوار هرلحظه تهدید خطر میکند.

البته پیرامون حوادث اخیر در امریکا بویژه منطقه وپاکستان هریك از هموطنان ما به زعم استعداد وقوت اندیشه خویش این قضایارا به تحلیل میگیرند وبه اصطلاح ازشکم خویش گپ های را بیرون می آورند که یا شاید هیچ صحت ندارد ، یا بعید از امکان به نظر میرسد .

ویاهم کمتر نزدیك به حقیقت می باشد؛اما آنچه مسلم است ونمیشود که از آن انکار کرد شروع جنگ روانی امریکا علیه افغانستان ومردم آن است که تنها روی زبان و پرده تلویزیون ختم میشود ؛به این معنی که آن وحشت ودهشت راکه امریکا از طی یك هفته بدینسو از طریق رادیوها ، وپرده های تلویزیون درقبال افغانستان براه انداخته است جزء جنگ روانی (هم تعرضی وهم تدافعی)چیزی بیش نیست.

امریکا میخواهد با قوت ویرستیژیکه امروز درجهان دارد بواسطه این جنگ روانی مردم افغانستان را روحاً مشوش ساخته وتحت تاثیر خود در بیاورد تااگرپا استفاده از این امکان بتواند خلای قدرت سیاسی ،نظامی رادراین ملك بوجود آورده ویایك تیربه اصطلاح مفت قادرشود سه هدف عمده را شکار کند :

طالبان ، اسامه و انتقال حکومت جدیدامریکایی تحت پوشش شاه مخلوع ظاهرشاه بهرحال شهرکابل باگذشت هرروز طی همین هفته رنگ دیگر بخود گرفته و از سکنه آن لحظه کاسته شده میرود .

دکاکین درحال تخلیه اند ومردم هم به این می اندیشند که باید هرچه زودتر شهر را ترك گفت؛مگر اینکه آنان به کجا بروند وچه کنند برای هیچ یکی روشن نیست.

آنچه مایه نگرانی وتشویش به نظر میرسد اینست که مردم کمتر در روشنایی حقایق قرار دارند. مردم از تدابیر امنیتی و دفاعی شهر بویژه خطوط مقدم جبهه کمتر آگاهی دارند؛این درحالیست که همین حالا وضع نظامی درخطوط مقدم جبهه درمقایسه باچند روزقبل به مراتیب تحکیم وگسترش یافته و دوربین دفاعی نیرو های اردوی امارت اسلامی بیشتر درجهت دفاع ازسرحدات هوایی وزمینی ؛هکذاحفظ وثبات خطوط مقدم جبهات توجه یافته است.

باوجود این همه ، تشویش و اضطراب کلی شهروندان شهرکابل را امروز بی اعتمادی و بی باوری تشکیل داده آنان بیم این دارند که درگرداب این بی اعتمادی غرق نشوند .

حالا برمسئولین امنیتی ونظامی امارت اسلامی افغانستان آن چنانیکه آنها تدابیر امنیتی و دفاعی درجهت دفع حملات راکتی امریکا؛ همچنان امنیت عمومی شهرکابل اتخاذ نموده اند باید به همان قوت هموطنان ما را هرچه زودتر اطلاع بدهند تاباشد دسایس شوم دشمنان ما درهرکجا خنثی شود

. مهربان

### دلوړوزده کړو ...

بهیر وکوت او دتدریسی چارو دلاښه والی او تنظیم په باره کی یی دپوهنځیو له چارواکو او ستادانو سره خبری اتری وکړی.

دلوړو زده کړو وزارت معین محترم مولوی محمد مسلم حقانی وایی :دکابل ښار دلوړو زده کړو په ځلورو تحصیلی موسسوکی شپږ زره شپږسوه تنه محصلان دلیلیی او نهاری په دول دهیواد له مرکز او ولایتو نو څخه په تحصیلی بهیرکی شامل دی چی په ارامه او دادمنه فضاکی خپل تحصیل ته دوام ورکوی.

ده زیات کړه :دلیلیو دلوست دخونو ،کتابونو او ددرسی مواد و په ګډون محصلانو ته ټولی اسانتیا وی برابری شویدی او له بودجوی محدودیتونو سره سره داستادانو دلیږدونی لپاره ترانسپورتی وسایط موظف شویدی .

### مبارزین چیچن ...

بزرگ چیچن باز داشت کرده اند .

دراثر حمله مبارزین چیچني که دیروزصورت گرفت دوجنرال وهشت افسرعالیترتبه روسي کشته شدند.

تاکنون معلوم نشده است که ایا نیروهاي روسي کنترول شهر گودرمیس را که دیروز سه صد سرباز چیچني به آن شهر حمله کردند دوباره بدست گرفته اند یاخیر.

قوماندان نیروهاي روسي درچیچن ادعا کرده است که عملیات نیروهاي روسي در سراسر چیچن ادامه دارد مطابق به همین اطلاعات چنین نتیجه میشود که نیروهاي روسي توانائي آنرا ندارند که خودرابرچیچن قایم سازند

SHARIAT DAILY
Published · by:
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:Mawlwi. Assadullah.Haidari
Editor :M.Abrahim.Nabil
Composed by:Ahmad Jawed .Faqeer.

**توجه!**

ایمان شما اجازه نخواهدداد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی حرمتی بگذارید